دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسي:

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۳۴ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۸ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لیندۍ ۴ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د صفر المظفر ۲ مه د۲۰۱۴ م د نوامبر ۲۵ مه

درس قرآن

او ای انسانه! له نه ګورې چي الله پاک د ځمکي ټول ځیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چي د الله په حکم په بحر کي چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولي چي دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چي تاسي یې ژوندي کړی بیا مو مره کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ریښتیا هم چي انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدري رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

سفر رئیس اجرائیه جمهوری اسلامی افغانستان به ولسوالی یحیی خیل ولایت پکتیکا

دوکتور عبدالله عبدالله رییس اجرائیه جمهوری اسلامی افغانستان، ظهر روز دوشنبه (۲ قوس) برای بازدید از محل حمله تروریستی و ابراز همدردی با خانوادهء قربانیان به ولسوالی یحیی خیل ولایت پکتیکا سفر کرد.

رئیس اجرائیه کشور که در این سفر از سوی شمار از مقام های بلند پایه کشور همراهی می شد، در هنگام بازدید از محل حملهء انتحاری و خانوادهای قربانیان رویداد تروریستی، در ولسوالی یحی خیل ولایت پکتیکا، این رویداد را یک عمل تروریستی وحشیانه و دشمنی با مردم بی دفاع و بی گناه افغانستان خوانده و آن را شدیداً تقبح کرد.

هم چنان، دوکتور عبدالله عبدالله، ضمن اتحاف دعا به روح شهدای این فاجعه و عرض تسلیت به بازماندگان قربانیان، حکومت وحدت ملی را شریک درد و سوگ آنان دانست و اعلام نمود که با تمام توان در صدد پایان بخشیدن به این تراژیدی خونین هست که از سال ها به اینسو از مردم مظلوم افغانستان قربانی می گیرد.

دوکتور عبدالله عبدالله در حالی که چشم در چشم مردم غمدیده این ولایت که... (ص، ۴)

د پکتیکا د وروستي غمیزې په اړه د حزب اسلامی افغانستان د تسلیت پیغام

پکتیکا یوځل بیا زموږ د یو شمیر بیګناه هېوادوالو په وینو ورنګېده.

د پکتیکا په یحیی خېلو ولسوالۍ کې یو شمیر هېوادوال چي زیاتره ځوانان وو د والیبال د یوې مسابقې دلیدلو تماشې ته راټول شوی وو؛ چې د خلکو دګڼه ګوڼې په منځ کي یو ځانمرګي ځان والوځاوه چې د سیمه ییزو سرچینو په حواله تر څلویښتو زیات هېوادوال سو پکې شهیدان او تر شپیتو زیات ټپیان شول.

حزب اسلامي افغانستان پر دغه خونړۍ پېښه خپله ژوره خواشیني څرګندوي، شهیدانو ته د ستر رب له لوی درباره د مغفرت او ټپیانو ته د عاجلې روغتیا غوښتنه کوي او د شهیدانو او ټپیانو له کورنیو سره ځان په دغه ستر ناورین کې شریک بولي. خدای (جل جلاله) دې په هېواد کې ددغسې خونړیو او بورنوونکو پیښو لړۍ پای ته ورسوي.

داکتر عبدالله عبدالله:

توافقنامه های امنیتی با امریکا و ناتو برای همکاریهای نظامی و امنیتی مهم است

کابل، پژواک:

داکتر عبدالله رییس اجرایی حکومت میگوید که تاچند روز دیگر، وی و رییس جمهور در نشست ناتو شرکت خواهند کرد و امیداست که مشرانو جرگه قبل ازاین نشست، توافقنامه های امنیتی با امریکا و ناتو را نیز تایید نماید.

ولسی جرگه، روز یکشنبه توافقنامه امنیتی افغانستان با امریکا و ناتو را در یک نشست فوق العاده با اکثریت آرا تایید کرد.

داکترعبدالله در نشست روز دوشنبه (۲ قوس) شورای وزیران گفت ... (ص، ۴)

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمدخان د فرانسې له سفیر سره وکتل

د اجرایيه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمد خان د لیندۍ په لومړۍ نیټه پخپل دفتر کې د فرانسې سفیر سره وکتل.

د اجرائیه ریاست د لومړي معاونیت د مطبوعاتو دفتر خبر راکوي چې د فرانسې سفیر، انجنیرمحمدخان ته د اجرایي ریاست د لومړی مرستیالی مبارکي وویله او د ملي وحدت له حکومت سره یې د فرانسې د دولت او خلکو د بشپړ ملاتړ او د همکاریو د دوام ډاډ ورکړ.

هغه زیاته کړه چې په راتلونکي اوړي کې به په کابل کې دخپلو مرستو په دوام د ماشومانو د کلینیک ترڅنګ د میرمنو دروغتیایي مرکز ځانګه هم پرانیزي چې هغه میندې چې د درملنې لپاره بهرته بیول کیږي په همدی روغتیایي مرکز کې تداوي شي.

دفرانسې سفیر داجرائیه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمد خان ته دا ډاډ هم ورکړ چې په نیږدې راتلونکې کې به د پنجشیر او بامیانو په ولایتونوکې دکرنیزو چارو په برخه کې د مرستو ځانګې پرانیزي. ... (۴ مخ)

ملي امنیت:

د پکتیکا د برید تر شا حقاني شبکه ده

کابل، رسنۍ:

د ملي امنیت ادارې د پکتیکا ولایت د برید پړه چې لږ تر لږه ۵۵ کسان یې ووژل پر حقاني شبکې باندې اچولې ده. له بلې خوا د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ویلي دي چې د افغانستان دښمنان غواړي د راتلونکې په اړه خلک ناهیلي کړي.

د افغانستان د ملي امنیت ریاست د یوې اعلامیې په خپرولو سره د پکتیکا د برید پړه پر حقاني شبکې وراچولې ده. په اعلامیه کې راغلي دي: "د دې برید طراحان قاري عمري او ملا رحیم الله چې په ملا کبیر شهرت لري، دي. هغه کس چې دغه برید یې ترسره کړی دی اسماعیل نومیده. ملا کبیر د کریم خان زوی دی چې د همدې کلې غیبي خیل، چې برید په کې ترسره شو، اصلي اوسیدونکی دی." (۴ مخ)

تعجیل سوال بر انگیز!

ف. فایض

بستن قرار داد های ستراتیژیک و پیمانهای امنیتی در جهان امروز کدام امر جدیدی نیست، خیلی از کشورها بنابر ضرورتهای خود با هم قرار داد می بندند؛ ولی در عقد قرار داد ها هرکشور منافع ملی خود را در نظر می داشته باشد و قرار داد ها بربنیاد تساوی عقد میگردد. اگر در قرار دادی مسأله «تحمیل» مطمح نظر باشد، قرار داد از لحاظ حقوقی خود بخود اعتبار خود را از دست میدهد. ما که طعمه تلخ انزوای سیاسی را آزموده ایم، نمیخواهیم کشور ما باز بسوی یک تجرید و انزوا کشانده شود، بخصوص کشور ما که در چهاردههٔ گذشته شاهد جنگ، بم و باروت و تجاوزات بیرونی بوده است و از هر لحاظ صدمات غیر قابل تلافیی دیده است، ما از هر زمان دیگر ... (ص، ۲)

دچین استازي له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې دافغانستان دسولې او اتحاد له بهیر څخه ملاتړ وکړي

دچین استازي له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې دافغانستان دسولې او اتحاد له بهیر څخه ملاتړ وکړي. دسین هوا آژانس دخبر له مخې: په م م کې دچین ددائمي استازي مرستیال وانګ مین دنومبر په ۲۰مه نېټه له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې دافغانستان دسولې او اتحاد له بهیر څخه ملاتړ وکړي او دغه هېواد ته رغنده مرسته برابره کړي.

وانګ مین وویل په افغانستان کې دسولې او ثبات رامنځته کیدو لپاره باید پراخ او زغم لرونکې سیاسي جوړجاړي ته ورسیږي، نړیواله ټولنه باید دهېواد دامنیت او ثبات ساتلو، داقتصادي او ټولنیزې پرمختیا او په سیمه ییزې همکارۍ کې ددغه هېواد دګډون په چارو کې له افغانستان څخه ملاتړ وکړي. هغه وویل، دچین حکومت... (۴ مخ)

توحیدي: په تېرو ۱۳ کلونو کې ۴۱ خبریالان وژل شوي دي

کابل، رسنۍ:

نی یا د آزادو رسنیو د ملاتړ اداره وایي چې په افغانستان کې په تیرو ۱۳ کالو کې له خبریالانو سره د تاوتریخوالي ۵۰۰ مورده ثبت شوي دي.

صدیق الله توحیدی د دې اداره مشر پرون په یوه خبري ناسته کې وویل، چې د تاوتریخوالي په یادو مواردو کې ۴۰ هغه یې د قتل قضیې دي.

د توحیدي په وینا د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عاملان له مجازاتو پرته په هیواد کې په آزاده توګه ګرځي. هغه له حکومته وغښتل تر څو د یو ځانګړي کمیسیون په ګومارلو سره، د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ټولې دوسیې تر بیا غور لاندې ونیسي او له عاملانو... (۴ مخ)

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

پکتیکا

یوځل بیا په وینو ولمبول شوه

افغانستان دا مهال له ډېرو کړکېچنو حالاتو سره مخ دی، له یوی خوا دا نژدې څلورلسیزې کېږي چې زموږ په هېواد داسی حالات تېل شوي چې په هر ګام کې له خانه سره د وینو او ویرونو پیغام لري او هره ورځ پرې دګولیو ږلی، وربړي او هغه د شاعر په تعبیر!

هر سحر سترګې د ګل پـه اوښـکـو ډکـې
په دا باغ کـې بـې ژړلـو خـنـدا نشـتـه

له بلې خوا د هېواد اقتصادي، سیاسي، روغتیایی او په لسګونو نورې ستونزې. له دغو ټولو حالاتو سره مبارزه تر ټولو دمخه د افـغـان ولـس ملي یووالي ته اړتیا لري او دا یووالی ترهغې پورې تحـقـق نـه شـي موندلای چې زموږ ویده شوی شعورنه وي راویښ شوی، خپل دوست او دښمن مونه وی پیژندلی او خپله ګټه او تاوان مونه وي پیژندلی.

وایې: «د رومبي پَل؛ د وروستي پُل» او یا هم د یوه مورخ دا خـبـره چې: تاریخ ددې له پاره لولو چې تیرو تنې تکرار نه کړو. دا مهال زمـوږ ربښې ربښې ګریوان ته ډېر دظلم او ستم لاسونه را اوږده شـوي دي، زموږ پر بده ورځ د چا وروخه نه کږېږي، زموږ پر اوښکو د چا زړه نـه سوځي، زموږ له وینو تویېدونه ډېر خدای دښمنـه افـراد، کـړی او هېوادونه خوند اخلي؛ نو دا اوس پرموږ افغانانو ده چې وجـدان مـو ټکان وخوري، ویده شوی شعور مو راویښ شي او خان پردې پوه کـړو چې دیوه مسلمان او افغان ولس په توګه موږ ته څه کول په کـار دي، باید پردې پوه شو چې کوم ګام اخلو دا دچا په ګټه دی.

پکتیکا یو ځل دمخه په وینو لمبیدلې وه او ارګون په وینو سور شوی و، او داخل یحیی خیل په وینو ولمبول شو؛ خو پوښتنـه دادہ چـې ددی کار ګټه چاته ورسېده؟

موږ له هغو سرچینونه چې زموږ په هېواد کې یې هره ورځ د بیګـنـاه انسانانو د وینو تویولو لوبه روانه کړې ګیله نه کوو، د هغوی وجدانونـه ناروغ شوي، هغوی پخپله هم د شیطان پرلاره روان دي او له خانـه د لویو شیطاني او طاغوتي خواکونو د نامقدسو اهدافو د عملي کولو پـه لارکې هم مزدورانه منډې ترړې وهي، موږ هغوته عذر نه کوو؛ خـکـه هغوی د اسلام او انسانیت له نېغې لارې کاږه شوي، د بېګناه انسـانـانـو وینې تویول په کوم قانون روا دي؟ هغوی قاتلان دي او په دې باور لرو چې یوه ورځ به خامخا داسې راځي چې د خپلو ټولو جنایاتو بیه به ادا کوي؛ خو زموږ خبره هغه چاته متوجه ده چې هم د اسلام ادعا لرې او هم د افغانیت، هغوی باید پردې پوه شي چې هغوی یا په آګاهـانـه یـا ناآګاهانه ډول لګیا دي د نورو د خوشالولو له پاره دخپـلـو بـېـګـنـاه هېوادوالو وینې تویوي. دوی باید پردې پوه وي چې دا ملت مسلمـان دی او دا پرون یې د نړۍ دیوه لوی طاغوت پر وړاندې تر دوو میلیونو د زیاتو انسانانو وینې د کاېناتو دستر رب حضورته نذرانه کړې، دا ملت د وژلو او دوبر پر تغره دکښېنولو پرخای د درناوي وړدی، ترکومه چې پـه افغانستان کې د بهرنیانو دحضور خبره ده؛ نو دا بهرنیان، نه دې ولـس راغوښتي او نه یې پرحضور خوښ دي او نه یی دراوستلو مسـؤولـیـت لري.

خو عجیبه ده هغه هېوادونه چې همدا بهرني خواکونه د هغوی پـه خمکه، سمندر او فضا کې حضور لري او په هېواد کې یی غیر اسلامـي قوانین چلیږي، مسلمانان دي، او افغانستان چې لاپې د سره استعمار پـر وړاندې پاکې وینې نه دي وچې شوي او دا نن یې هم بېګناه، هره ورځ وینې تویول کیږي ګنهګار.

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکـړي
خپل ټټو او د بـل اس بـه بـرابـر کـړې
تو لعنت دې په دا هسـې مـنـصـفـی شـه
چې له حقه و بـاطـلـو تـه ګـذر کـړې

کـ فروغګر

زموږ په حکومتي تشکیلاتو کې اداري اصلاحات اړین دي

موږ له کلونو راهیسی په خاصه توګه له هغه مهاله را په دې خوا چې د ۲۰۰۱ ز کال د سپتامبر له پېښې وروسته، سوله ساتی پوځونه افغانستان ته راغلل د اداری سیستم د جوړښت له مخې له ګنو ستونزو سره مخ یو. همدغه ستونزې دي چې د بیوروکراسی په څنګ کې یې اداری فساد ته هم لاره اواره کړې ده، موږ د تاریخ په دې پېر کې مخکې له دې چې خپل اداري سیتم ته پاملرنه وکړو، بلا، نا حکومتی اداري، پوځي او غیر پوځي کمپنی زموږ د هېواد د بیا رغولو هغه ټیکې خپلې کړې چې که چېرې واقعاً په امینو لاسو کې پرېوتي وای او پرځای لګیدلې وای نو اوس به مو درغونې په لحاظ بل ډول هیواد درلود او په اوسنیو نا سالمو محیطی شرایطو کې چې ان په پلازمینه کابل کې د ښار هر اوسیدونکی د ورځې دوه دری کیلو چټله هوا تنفس کوي، ژوند نه کاوه.

همدغه ناسمو تشکیلاتو پر فساد دومره زور او فشار راوړ چې له مخکې نه یې ناقانونه بلند منزلونه، دودونو رویایی تالارونه، میلستونونه او په سلهاوزره عرادې موټرو نه راوخوټول چې اوس یې د کنټرول او تنظیم مخنیوی ګران کار دی او راتلونکو حکومتونوته یې خورا زیات سرخوږې پیدا کړي دي، د ملکي مامورینو په تشکیلاتی تراکم کې بی عدالتی ورځ تر بلې وغزیدې او چې کوم مامور د داوود خان په حکومت کې څومره معاش اخیسته په ۲۰۰۱ کال کې یې هم هماغه معاش و، بی تجربی او د نورو په لاس بشکیل حکومت ونشو کړای خان راټول کړي او د ملکي تشکیلاتو په اداري سیستم او مالیاتی سیستم کې سمون راولي، له همدی لامله له وزیره تر چپړاسي د حکومتی بودجې په تر ورلو لاس پورې کړ؛ اداري ترستونې په فساد کې غرقی شوې؛ له امنیتی کمپینو، ساختمانی کمپنی جوړې شوې او غټې غټې ټیکې یې واخیستې چې بالاخره خبره هغه حدته ورسیده چې له افغان حکومت سره شوي مرستې بیرته بهر ته ولاړې او حکومت ته په ۵ سلنه کې هم برخې او شوکې پیل شوې؛ دملي وحدت حکومت د غوټکوته په پام کې نیولو سره د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون ته دنده وسپارله چې د اداري اصلاحاتو پر پلانونو جدی کار پیل کړي، د هېواد اولسمشر محمداشرف غنی، اجرایی رئیس عبدالله عبدالله په خپلو بیلا بیلو ناستواو غونډو کې پر همدی ټکی ترکیز کاوه چې درغنده پلانونو له مخې او د اصلاحاتو د پلې کولو له لارې له حکومتي ادارونه د فساد جرړې وباسي، د اجرایی رئیس لومړی مرستیال انجنیر محمد خان په یوه غونډه کې وزیرانوته وویل: ...

(۳ مخ)

تعجیل سوال برانگیز!

(ادامه از صفحه اول)

... به مساعدتهای بی شائبهٔ کشورهای غنی نیاز داریم اصطلاح عام است که سیلاب برده را تـا سیلاب‌نسازد،امکان‌ساختن‌آن‌بنظر نمیخورد.

جاپان یک کشور به پا ایستاده بود و در جنگ دوم جهانی با جرمنی و ایتالـیـا هـم پیمان بود؛ اما وقتی جرمنی شکست خـورد، جاپان خود را آمادهٔ جنگ کرد؛ ولی حمـلات امریکا بالای جاپان و بالاخره بکار برد بمبهای اتومی بالای هیروشیما و ناگاساکی دو شهـر عمدهٔ جاپان باعث شکست و تسلیم بلا قیـد و شرط جاپان گردید، بعداً «یوشیـدا» یـک شخصیت ملی جاپان که در زمـان تـجـاوز امریکا در زندان حکومت نظامی جاپان بسـر میبرد، از زندان کشیده شده و از سوی مـک آرتر جنرال امریکایی به حیث صدراعظم آن کشور تعیین گردید و بالاخره او تـوانسـت همان جاپان تخریـب شـده را تـوسـط امریکاییها دو باره آباد سازد.

در کشور ما از زمان زمامداری آقای حامـد کرزی اولین پیمان ستراتیژیک با هند عقـد گردید که عقد این قرار داد برپاکستان گران هم آمد. ولی عقد قرار داد های ستراتیژیـک با ناتو، امریکا و برخی از کشور های اروپایـی هم صورت گرفت.

آقای کرزی بنابر دلایل ویژه یی که با خود داشت از عقد قرار داد سـتـراتـیـژیـک بـا پاکستان ابا ورزید. آقای کـرزی پـیـمـان ستراتیژیک با امریکا را در ششـم جـوزای ۱۳۹۱ امضا کرد و بخش امنیتـی را از آن پیمان یا قرار داد جدا نموده وعده سپرد کـه تا یک سال دیگر درین رابطه غـور صـورت خواهد گرفت و بعداً به امضـای آن اقـدام خواهد کرد. موصوف درین رابطه یک لـویـه جرگهٔ مشورتی را هم فراخواند؛ بـا آنـکـه اکثریت اعضای این لویه جرگه امضای ایـن قرار داد را فرمایش کردند؛ ولی عده یی با آن بهانه شیوهٔ موجود متن قرار داد مخـالـفـت کردند و سی‌ویک(۳۱) موردراپیشنهاد کردند که باید متن مورد بازنگری قرار داده شـده موارد پیشنهاد شده درآن گنجانیده شود که در پایان لویه جرگه رئیس جمهور از امضـای قرار داد خود داری کرد و امضای آنرا موکول به دولت جدید نمود. دولت‌جدید هم به چنان تعجیل آنرا به امضا رسانید که اولـیـن روز کاری اش با امضای همین قرار داد آغازگشت.

بر اساس قوانین نافذهٔ کشور، ایـن قـرار داد باید اولاً از سوی ولسی جرگه وبعداً از سوی مشرانو جرگه تصویب می گـردیـد. قرار به آن بود و لازم هم آن بود که متـن این قرار داد بعد از بررسی کمیتـه هـای مربوطهٔ ولسی جرگه ماده به ماده قـرائـت میگردید و مورد بحـث و مـداقـه قـرار میگرفت، بر این اساس طبق معمول بـایـد این کار به تاریخ پنجم برج قوس صـورت می پذیرفت؛ ولی ریاست ولسـی جـرگـه بنا به خواست یک عده وکلا برای این کار جلسهٔ فوق العاده گرفت، و بـتـاریـخ دوم قوس (۱۳۹۳) در یک جلسهٔ علنـی بـدون آنکه به وکلا حق بحث کردن را داده باشد به رای گیری علنی گذاشت که بدون پنج رای مخالف، سه رای مستنکف با یک صدو پنجاه رای تصویب شد که این عمل خشم وکلای مخالف را بر انگیـخـت، و بـرسـم اعتراض تالار ولسی جرگه را ترک کردند.

این قرار داد در زمانی به امضا رسید کـه بارک اوباما رئیس جمهور امریکا محـرمـانـه فرمانی را امضا کرد که طبق آن باید نیروهای امریکایی تا پایان سال ۲۰۱۵ در افغانسـتـان بمانند و با نیروهای افغان در عملیات نظامـی هم اشتراک کنند. این اقدام بدون مشورت با دولت افغانستان صورت گرفت و این بـدان معناست که امریکا افغانستان را یک خـانـهٔ بدون صاحب دانسته هر آنچه مصلحتـهـای خودش ایجاب میکند آن را مرعی الاجرا قرار میدهد. در حالی که قبلاً گفته شده بود کـه نیروهای امریکایی تا پایـان سـال ۲۰۱۴، افغانستان را ترک میگویند. اگر وضـع بـه چنین منوال باشد، امریکا میتواند بـار هـا تداوم حضور نیروهای خود در افغانستان را طی فرمانهای ریاست جمهوری مورد تأییـد قرار دهد بدون آنکه نیازی به درجریان قـرار دادن دولت افغانستان را احسـاس کـنـد. بهمین ترتیب قرار داد امنیتی هم بعد از هـر ده سال تمدید خواهد شد بدون درنظرداشت این، که افغانستان دیگر نیازی به این حضـور دارد یانه، بدیهی است که این قرار داد از یک طرف با توجه به نظر رسمی کمیسیون امـور تقنینی ولسی جرگه در خیلی از موارد کـه درنظر کمیسیون تقنینی نشاندهی شده بـا قوانین نافذهٔ کشور بخصوص قانون اسـاسـی در تعارض قرار دارد، باید متن مورد بـحـث قرار میگرفت و دولت افـغـانـسـتـان بـه پرسشهایی که به وجود میآمد جواب میگفت و به قناعت سوال کننده ها می پرداخـت و بعد از آن که قناعت همگانه حاصل میـشـد مورد تصویب قرار میگرفت؛ ولی تعجیل در امر تصویب، سوالات زیادی را در اذهان افراد و احاد ملت برانگیخت که چرا با چنین یـک امر خطیر و مهم برخورد چنین عـجـولانـه میشود آیا معامله یی صورت گرفته بود؟ اگر جواب نه باشد چرا این همه تعجـیـل؟ آیـا ایجاب نمیکرد که چنین مسأله مهـم بـرای چند روز به بحث گرفته شود؟

باید توجه داشت که علاوه بر آنکه خیلـی از موارد این قرار داد با قوانین نافذه مـا در تعارض است، آیا فرمان مخفیانهٔ بارک اوبـا مبنی بر تداوم حضور یـک سـال دیـگـر نیروهای امریکایی درافغانستان بمعنای نقض صریح این قرار داد نیست؟

اکنون از یکسو این قرار داد، از سـوی دیگر تعارض با بیشتر مواد قانون اساسـی و از سویی هم فرمان بارک اوباما، پس ایـن چه حالتی است؟ باید اولاً به هـمـهٔ ایـن «چراها» یی که وجود داشت جواب گفته میشد و بعداً قرار داد تصویب میشـد، ولـی آنچنان که دولت در امضای آن از تعجیـل بیش از حد کار گرفت ولسی جرگه دریـن تعجیل از دولت و حکومت هـم سـبـقـت جست و ببینیم که مشرانو جرگه بـحـیـث مجتمع «مشران» چگونه عمل میکند.

جای تأسف این است که چنین اقدامات در طول تاریخ از سوی زمامداران صورت گرفته؛ ولی زجر آن را ملت بیچاره کشیـده اسـت. قرار داد هایی ازین قماش از سـال ۱۸۳۸ گرفته تا ۱۹۲۱ از سوی زمامداران وقت امضـا شده؛ اما ملت بیچارهٔ افغان تا به امروز از پس لرزه های آن رنج میبرد. یکسال بعد اعضـای ولسی جرگهٔ موجود دیگر درین موقعیت قرار نخواهند داشت و دولت موجود هم بـعـد از پنج سال ممکن جای خود را به یک دولـت جدید تخلیه کند؛ ولی عواقب ناگواری که از چنین اقدامات عجولانه و عاقبت نیندیشانـه برجا میماند، این ملت فقیر و بیچاره در آتش آن خواهد سوخت.

عبیدالله صافي

د ملي یووالي حکومت دی ملي روحیه وپالي

له دې واقعیت نه هیڅوک سترګې نشي پټولای چې د افغانستان مسلمان اولس د ژوند په هر ډګر کې د پرمختګ جذبه لري او غواړي چې له نورو هیوادو سره اوږه په اوږه سیالي وکړي او له هیڅا وروسته پاتې نشي. د هیواد هروګړی چې په هر ډګر کې بریا ترلاسه کړي اولس وربانديې له ډیری خوښی نه جشن نیسي اوویاړ وربانديې کوي. د سپورټ او تعلیم په ډګر کې چې زموږ کوم ځوان ښه لوبه او ورتیا وړاندې کړي او هیوادته بریمن ستون شي هیوادوال یې نه یواځې دا چې ګرم استقبال کوي؛ بلکې پرغاړه یې ګلونه اچوي او پر اوږو یې سپروي، هرکلی یې کوي او شاباشې ورته وایي. د هیوادوالو له همدې اوچتې جذبې او ولولې نه دا ترلاسه کیږي چې د هیواد د پرمختګ لپاره ډیر زیات حریص او علاقه مند دي، خو په کوم ډګر کې چې افغانان له پرمختګ نه پاتې دي خورا زیات وربانديې خپه دي او په دغو ډګرونو کې چټک پرمختګ غواړي، داسې یو اولس چې په ډیرو وړو وړو بریاو دومره زیاته خوښي ښکاره کوي او خپل قهرمانان پر اوږو سپروي په لویو لویو بریاو خو به خامخا بې اندازې خوشالیږي؛ خو ډیر افسوس چې زموږ چارواکي تر اوسه پورې په دې نه دي توانیدلي چې د ښه حکومت والۍ په ډګرکې خپل مجاهد او اتل اولس ته د پرمختګ زیرې واوروي او خوشاله یې کړي.

چارواکي یواځې په دې کار د اولس شاباشی او ملاتړ نشي ترلاسه کولای چې د هیواد په لویو لویو څوکیو تکیه ووهی او لوی لوی نومونه و لري؛ بلکی لویه څوکی او لوی نوم درونـد مسئولیت هم لري، هرڅا چې خپل دغه درونـد مسئولیت ترسره کړ هغه د اولس د سترګو تور او د تاریخ په پاڼو کې د هیواد خدمتګار او خواخوږي په نوم یادیږي؛ خو هرڅوک چې د خپل درونـد مسئولیت په اداکولو کې پاتـي راشي او له خپل اقتدار نه ناوړه ګټه واخلي هغه د ملت په وړاندې سپک او د تاریخ په پاڼو کـې ملي خائن په نوم یادیږي.

د هیواد تېر چارواکي دی پردې واقعیت ځان پوه کړي چې تر اوسه پورې دافغانستان د وروسته پاتې کیدو اصلي عاملین همدوی پاتې شوي دي؛ ځکه چې خپل مسئولیت یې په هغه شان نه دی ادا کړی څنګه چې ورته پکار و.

همدا لامل دی چې د هیواد تیرو چارواکو د اولس په وړاندې خپل محبوبیت له لاسه ورکړې او په کرکه ورته ګوري. نه څوک ورته دعاکوي او نه یې هم په ښه نوم یادوي. اوسنی ملي یووالي حکومت هم د اولس تر کلکې څارنې لاندې دی، هرکار او هرې خبرې ته یې ښه فکر کوي چې څومره د اخلاص په تول برابرې دي؟ ایا د اولس په ګټه دي او که د خپل ځان پر ګټه؟ ایا عملي بڼه لري او که هسې د اولس په سترګو کې خاورې اچوي؟ که څه هم د ملي یو والي د حکومت د جوړیدو دوه میاشتې په پوره کیدو دي او چارواکې ایله په ابتدایي کارونو کې لګیا دي؟ مګر اولس ددوي ټولو کارونوته متوجه دي او په پوره بې صبرې انتظار باسي چې بالاخره د ملت د صبر په کاسه کې څه اچوي؟ الله دې وکړي چې د ملت په وړاندې سر لوړي وخیږي او ارمانونونه یې پوره کړي. د ملي یووالي د حکومت د چارواکو په وړاندې تر ټولو مهم کار دادی چې دوی د ملت روحیه، جذبات او غوښتنې هم په نظر کې ونیسي او خپلی هغه ژمنې هم په ذهن کې تازه کړي چې د کمپاین پر وخت له اولس سره کړی وې، له څه شک پرته د ملي یووالي دحکومت مشرانو د اولس رایې له فسادنه د پاکې کابینې د معرفی کولو، په هیواد کې د امنیت او استحکام د راوستلو، دعدل او انصاف د قائمولو او دخدمتګار حکومت دجوړولو د شعار له لارې ترلاسه کړې وې اوس چې د ملي یووالې حکومت عملاً جوړ شوی او چارواکي د اقتدار پرګدی ناست دي مسئول دي چې خپلې کړی ژمنې ترسره او د ملت پروړاندې سرلوړی شي. پکار خو داو چې دولت تر اوسه لږ ترلږه نوی کابینه معرفي کړی وای ځکه چې په دوه میاشتو کې کولای شول د کار وړ وزیران پیدا او له دې مهم کار نه یې خپلې اوږې سپکې کړې وای: خوداچې تر اوسه ددغه مهم مسئولیت په ترسره کولو کې پاتې راغلي دی د هیوادوالو په اذهانو کی ډیری پوښتنې راولاړې کړې دي او فکر کوي چې د ملي یووالي حکومت د ملت د غم پرځای په حکومت کې د خپلو خپلو ګوندونو د زیاتو اشخاصو د را ننه کولو په منډو کې لګیادي؛ خو ملت ته د هغوی داکړنې ځکه د منلونه دي چې داکار د ملي یووالې د حکومت له روحیې نه مخالف عمل دی، د ملي یووالې د حکومت له تعریف نه پخپله دا ترلاسه کیږي چې په حکومت کې نه څوک زیات دی او نه کم؛ بلکې ټول یو برابر حق لري چې خپل ملت ته دخدمت کولو چانس ورکړای شي، که داسې ونشي نو د ملي یووالې د حکومت تعریف به هیڅ معنی و نه لري. د تحول او تداوم د ټیم ځینې اشخاص په ګردی میزونو کې د ملي یووالې د حکومت د تعریف او روحیې پرخلاف څرګندونې کوي او ووایي چې یواځې اولسمشر مسئولیت لري چې وزیران او نور لوړ پوړي چارواکي معرفي کړي په داسې حال کې چې دا څرګندونې له هغه تړون نه مخالفې دي چې په واک کې د مساوی برخې د درلودلو لفظ استعمال شوی. او دا هله تحقق موندلای شي چې د هیواد په چاروکې دواړوته یو برابر برخه ورکړای شي، که څه هم تر اوسه دواړو مشرانو پخپلو څرګندونو کې د خپلمنځي اختلافاتو یادونه نه ده کړی؛ بلکې هر وخت ملت ته د بشپړی همغږې ډاډ ورکړی، مګر بیاهم ددی خبرې ضرورت دی چې هغو عناصروته دی هم قطعاً اجازه ورنکړای شي چې د ملي یووالې د حکومت د کمزوری کولو لپاره غیر مسئولانه څرګندونې کوي.

د ملي یووالې حکومت لکه څنګه چې لـه نامه نه یې څرګندیږي واقعاً د ټول ملـت نماینده حکومت دی، په دی کې د هیواد ټول ګوندونه او قومونه ګډون لري؛ نوځکه ددی خبرې کلکه اړتیا ده چې د یو بل د حذفولو او یا هم دکمزوري کولو پرځای په ګډه او په یـو غږ د هیواد د خدمت لپاره میدان ته ودانګي، نه د اصلاحاتو او همپالنې ټیم په ملاتړو کی د خدمتګارو او مخلصو اشخاصو کمی دی او نه هم د تحول او تداوم د ټیم په ملاتړو کی، البته ددی خبرې خیال ساتل اړین دی چې لـه دواړو له ملاتړونه له څه امتیاز پرته خدمت واخستل شي او هیڅوک له خپل حـق نـه محروم نه کړای شي که داسې ونشـي نـو خامخا د یو لوری حق تر پښو لاندی کیږی او همدا بې انصافي د حکومت دکمـزوري او دښمنانو د پیاوړتیا باعث ګرځـي چې د افغانستان کړیدلی اولس ته په هیڅ حالت کی د زغملو نه دی.

د حکومت او په مجموع کی د ټولو هیوادوالو برې په دې کې نغښتل شوی چې د ملي یووالې حکومت په ملي روحیه کار وکړی او د خپل هیواد دسلامتیا او پرمختګ لپاره له هیڅ ډول تیریدنې او قربانۍ نه دریغ ونکړي. که داسې ونکړي نو د اولس له ملاترنه به هم محروم شي او د ټولو بدو عواقبو مسئولیت به هم ددوی پرغاړه وي. د عقل او منطق غوښتنه داده چې مشران باید دا مساعد وخت غنیمت وګڼي او د ملت د صحیح خدمت په ترسره کولو سره هیواد پرداسې مزبوتو بنیادونو ودروي چې د ژوند په ټولو ډګرونو کې ملموس او حساب وړګرندي پرمختګ وکړي پخپلو پښو ودریږي او نوروته د ګدایي کچکول له نیولو څخه خلاصون ترلاسه کړي. البته دا ستر هدف هله ترلاسه کیدلای شي چې په حکومت کې د ملي یووالې روحیه په صحیح معنا وپالل شي، ټولو پرګنیوته په یوه سترګه وکتل شي او له څه تفوق او امتیاز پرته دخدمت کولو فرصت ورته برابر کړای شي هر افغان پخپل افغانیت فخر وکړي او د کمترۍ د احساس پرځای د برابرۍ احساس پیدا کړي او همدا د برابرۍ احساس ددې لامل وګرځي چې د هیواد ټولې پرګنې د اتفاق او یووالي په برکت خپل هیواد د امن او استحکام په کلا بدله کړي.

خلص سوانح مرحوم حاجی محمد حنیف

مرحوم حاجی محمد حنیف خان کشانی فرزند عبدالرحمن کشانی درسال ۱۳۱۳ درقریه امیر بنیاد دریک خانواده مسلمان متولد گردید تحصیل ابتدائیه را در مدارس دینی فرا گرفت.

مرحوم حاجی محمد حنیف کشانی در ابتدای زندگی خویش بعد از سپری نمودن دوره مکلفیت عسکری به زراعت و مالداری ادامه داده، همیشه به زندگی دشتی و صحرائی علاقهٔ به خصوص داشت.

مرحوم حاجی محمدحنیف خان کشانی در ابتدای حکومت نورمحمدتره کی با مجاهدین ولایت هلمند پیوست و بعد از آن با مجاهدین جبههٔ نیمروز شروع به جهاد نموده، علاقهٔ خاص به جهاد و مبارزه علیه دشمنان خاک و دین مقدس اسلام داشت.

مرحوم در بین مجاهدین بوده از راهنمایی های خردمندانه شان استفاده می نمودند بعداً نظر به شخصیت جهادیی که داشت توسط ریش سفیدان قوم کشانی بحیث نماینده تام الاختیار به حزب اسلامی افغانستان معرفی گردید. موصوف طی مدت کمی چهار جبهه هریک بنام جبهه حاجی محمدحنیف، جبهه حاجی لعل جان، جبهه وزیرخان در ولسوالی کنگ و چخانسور و جبهه حاجی مولوی یعقوب جان در ولسوالی چهار برجک را رسماً منظوری نمود بعد از تسلیم شدن اسلحه سبک و سنگین و مهمات فراوان آنها را بخاک افغانستان در ولسوالی کنگ ولایت نیمروز علاقه داری میلی کرکی وولسوالی چهار برجک انتقال و تشکیل پایگاه های نظامی و عملیاتی را ایجاد کرد.

در اولین روز های جهاد حاجی محمد حنیف خان کشانی و همسنگران شان اتحاد نامهٔ کتبی را به جبهات دیگر منطقه (جبهه نیمروز، جبهه مرحوم حاجی محمد رفیق خان، جبهه حاجی قاضی حبیب الله سفرزایی، جبهه حاجی معلم حمزه رخشانی، جبهه حاجی نبی جان، جبهه حاجی ملاگل محمد ساسولی (جبهه طالب ها) جبهه حاجی شریف خان سالارزیی، جبهه حاجی میر علی ماککی، جبهه حاجی خدا نظر موسی زیی، جبهه مرحوم عباس خان نهتانی، جبهه حاجی امان الله نهتانی، جبهات حزب وحدت، جبهه شیخ آصف و سایر جبهات منطقه مستقر در ولسوالی کنگ به امضا رسانید.

تمام جبهات مستقر در ولسوالی کنگ ولایت نیمروز با مشوره یکدیگر عملیات هایی را که در منطقه انجام میدادند مثل یک برادر در سنگر جهاد بودند با سخاوت و مردانگی در مقابل دشمن می رزمیدند جهاد مردم ولایت نیمروز به همگان روشن و هویداست.

بعد از سقوط حکومت خلقی ها و پیروزی مجاهدین سربکف شخصیت جهادگر در خانه نشست مثل سابق شغل (زراعت و مالدرای) را اختیار نمود باز هم مردم نیمروز و بالخصوص مردم محترم و اقوام شریف ولسوالی چخانسور از شخصیت جهادی رهنمائی و مشوره میگرفتند در تمام منازعات و جنجال های قومی بحیث ریش سفید اشتراک می نمود و بطور عادلانه به حل منازعات قومی اقدام موثر داشت.

تااینکه بتاریخ ۱۳/۷/۱۳۹۳ ساعت هشت شام جان بحق سپرده در جوار قبرستان آبائی شان (امیربلند) به اشتراک همه اقوام ساکن ولایت نیمروز احترامانه بخاک سپرده شد. (روحش شاد و یادش گرامی)

زموږ په حکومتي تشکیلاتو کې ...

...(ولایاتو ته ولاړشئ، له والیانو، حکومتي ادارو او خلکو سـره په تفاهم کې د خلکو ستونزې اوارې کـړئ) . البته ددې پرځـای چې دوبی او نورو هـیوادونو ته د تفـریح لپاره ځي!!

په دې برخه کې د رسنیو د رپوټونو له مخې ویل شوي دي چې که څه هم د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون دکار او تولنیزو چارو وزارت ترڅنګ یوه موازي اداره بلل کیږي او ولسمشر غنی هم ددغه ډول ادارو د ادغام ژمنه کړې؛ خو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون د خپلو راتلونکو چارو لپاره نوې ستراتیژي اعلان کړه چې د چارواکو په وینایې د مختلفو ادارو له استازو سره په ګډه جوړه کړې ده، په دې رپوټ کې ویل شوي دي چې نوی حکومت داداري اصلاحاتو لپاره جدي تصمیم لري، همدارنګه په ادارو کې د اصلاحاتو لپاره به جوړه شوې ستراتیژی د کابینې غونډې ته وړاندې کیږي او د کابینې له تایید نه وروسته به ټولې چارې د همدغه ستراتیژی له مخې تنظیمیږي.

د ملکي خدماتو او اداري اصلاحاتو چارواکو ویلي دي چې په تیرو ۱۳ کلونو کې د اصلاحاتو په برخه کې دوی د ظرفیتونو د نشتوالي له جدي ستونزو سره مخامخ وو؛ خو د چارو شنونکي ورته اداري هم په فساد تورنوي لـه همدې لامله؛ اولسمشر محمداشرف غنی هم د جهادي مشرانو غونډې ته په خپلو څرګندونو کې ویلي دي چې د ملي اجماع له لارې د اصلاحاتو پلې کولوته ژمن دي، له ارګه په یو خبرپاڼه کې ویل شوي دي چې اولسمشرغنی، دجهادي، رهبرانو او سیاسي مشرانو په مشورتي غونډه کې د خپلو څرګندو نو په ترڅ کې ولسمشر د هیواد د امنیتي ستونزو، اصلاحاتو راوستو او خپلو سفرونو په اړه دغونډې ګډونوالوته معلومات ورکړی او راغلي مشران یې د هیواد مهمې شتمنی بللي او ژمنه یې کړی چې د ملی اجماع له لارې به دهیواد په ټولو حکومتی څانګو کې بنسټیز اصلاحات راولي...

کله چې موږ د هیواد د لوړ پوړو چارواکو دغه دریځ ته پام را اړوو نو یوه بله جدي ستونزه زموږ مخې ته دریږي چې هغه په هیواد کې د امنیت تأمین دی؛ د شنونکو په باورسره له دې چې زموږ داخلی او بهرنې دښمنان، سیمه ییزې او نړیوالې جاسوسی شبکې زموږ د هیواد امنیت ګواښي د سرپرستو وزیرانو موجودیت او دندوته نه پاملرنه هم په هیواد کې نا امنیوته لمن وهي او لا داهم ویل کیږي له هغه مهاله چې وزیران سرپرست اعلان شوي دي له وزیره را واخله د وزارت ترلاندې ردو پوړي ټول په ټولولو اخته دي او په دواړو لاسو اداري فساد ته وده ورکوي ترهغه چې حکومت نوې کابینه اعلان نکړي، او دا کابینه له پارلمانه د اعتماد رایه وانخلي او په کار پیل ونکړي سربیره پر فساد امنیتی وضع به هم کړکیچنه او هیواد به له خورا درډوونکي بحران سره مخ وي.

دغو ټکوته په کتو موږ پرافغان حکومت غږ کوو چې د حکومت دواړه لوري دې پر شتو اختلافاتو جدي غور وکړي او د مثبتی نتیجی له حصوله وروسته دې دوزیرانو په ټاکلو کې د جمهور رئیس او اجرایي رئیس له پوره غورنه وروسته اقدام وشي او بیادې هغه لوایح اعلان شي چې حکومت یې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو په اړه لري، موږ باور لرو چې اداري اصلاحات یوازې په تشکیلاتو پورې نه دي مربوط، بلکې دغه ملي ترمنیالوژي، د فساد مخنیوی، د حکومتی کارمندانو د ژوند بدلون، په ښاری تشکیلاتو کې سمون، دغاصبانو، غلو مافیایی سرغنو نیول په وزارتونو کې دشوو فسادونو دوسیو سپړل، پر مفسدو چارواکو، بهرته تګ باندې بندیز لګول، ټول په کې شامل دي.

هیله من یو چې د حکومت ټولې خواوې او لوړ پوړي چارواکي په دې برخه کې ژمن او جدي وي، څو زموږ هیواد یوځل بیا ددغو بې لاریو په نتیجه کې له خورا سترو نورو کړکیچونو سره مخ شي.

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت
اونیزه

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیري
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چي د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسي اصلاح کړي چي د لیکني اصل روح ته زیان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

احمد خالد فیاض

باید همه چیز را در چوکات اسلام، قانونی سازیم

زندگی دور از قانون معنای وحشت را دارد. قانون است که حیثیت انسان را حفظ و بسوی کمال رهنمائی می کند، آنانی که از قانون گریز می نمایند، ماهیت اصلی انسانیت را از دست داده مانند حیوان خود را معرفی می کنند. آنها نه اصالت انسانی خود را شناخته اند و نه هم رمز پیروزی و سعادت را.

بیایید که قانون، هدف از قانون، اجراآت قانونی و قانونمندی را تا آخرین حد توان تشریح و تفسیر کنیم و مردم را از خوبی های آن آگاه ساخته و با حمایت و پشتیبانی قوی از قانون، این پروسه را تقویه نماییم. حمایت از قانون این معنا را دارد که اولتر از همه قانون را برخود تطبیق کنیم، کاری خلاف قانون را انجام ندهیم. در تمام ابعاد زندگی قانون را پیاده و خود را قانونمند سازیم و در ضمن آن برای تطبیق قانون و اجراآت قانونی درمحیط و ماحول وکشور خود تلاش کنیم به یکدیگر دست بدهیم تا قاطعانه جلو همه کارهای غیر قانونی را بگیریم، جرئتمندانه اعتراض های قانونی خود را بنمائیم اعمال غیر قانونی را محکوم و مرتکبین آنرا مستحق جزا بدانیم و از متولیان امور وصاحبان قدرت درخواست کنیم تا در تطبیق قانون سهل انگاری نکرده بدون اغماض و چشم پوشی و بدون جانبداری از اشخاص، قانون بالای همه یکسان تطبیق شده مردم با آسودگی و امنیت کامل زندگی نمایند و از اسرار حیات لذت گیرند.

اگر متولیان امور دولتی و سیاسی خود را پابند قانون سازند، حتماً می توانند که قانون را پیاده و بردیگران تطبیق کنند؛ امااگر آنها به این گمان باشند که خود آنها واجب الاحترام و غیر مسؤول اند و هرآنچه که در بارهٔ قانون می گویند، مقصد شان دیگران است و از میان دیگران تنها کسانی مراد اند که پشتوانه حکومتی نداشته روی اهداف واغراض دیگری تحت مراقبت شدید قرار دارند. اما آنانی که در دولت از حمایت محکم دولتی بهره مند بوده با بهره ها و شبکه های قدرتمند در ارتباط اند، هر عمل غیر قانونی آنها مورد باز خواست و پیگیری قانونی قرار نگرفته از هر نوع تهدید، تخویف و مجازات معاف اند. درینصورت نه تنها عدالت تأمین نگردیده، این ادعا ها نتایج مفیدی را بار نمی آورد بلکه دروازه های دیگری از بی قانونی و بی عدالتی را باز کرده مشکلات را افزونتر می سازد، به باور مردم ضربه زده مردم را از قانون گریزان می گرداند و نزدیکترین دوست و همکار هم به اعتراض دست زده به مخالفت می پردازد که نتایج آن خوب نبوده ناهمگونی ها ایجاد و راه برای فرکسیون بازی هاباز می گردد.

کوشش شود تا هرچیز قانونمند گردد، ابعاد مختلف زندگی قانونی شود، نظام زندگی فردی، اجتماعی، اخلاقی، حقوقی، سیاسی، اقتصادی و.... در چوکات قانون عیار و موافق به آن، عمل و اجراآت صورت گیرد، دروازه های فساد اخلاقی و اداری به صورت جدی بند شود، آداب و رسوم اسلامی در میان مردم رشد داده شود، مال، جان، عزت و ناموس مردم محفوظ باقیمانده امنیت و مصونیت مردم تضمین شود تا مردم در امن بوده از هرحیث احساس مصونیت کنند عقاید پاک اسلامی تقویه و جلو کسانی که برای تخریب عقاید اسلامی راه سازی می کنند گرفته شود، زیرا دریک کشور اسلامی وقتی که ماخواهان عدالت و قانونمندی می شویم حتماً باید برای تأمین عدالت و اجرای قانون، اسلام را معیار قرار داده همه چیز را در تمام ابعاد، از اسلام اخذ کنیم و پیش ازینکه درابعاد عبادی، اخلاقی، سیاسی و اجتماعی داخل شویم باید مسایل اعتقادی را بیشتر اهمیت داده قانون را در بخش اعتقادیات مردم مسلمان افغانستان رعایت و در تطبیق آن تلاش و برمتخلفین جزا بروفق شریعت اسلامی تعیین و قانوناً در اجرای آن اقدام عملی شود تا مردم بفهمند که حتماً درین سرزمین، که قانون و همه موازین زندگی آن در تطابق با قرآن و سنت تعیین شده است بالای همه اتباع افغانستان بدون استثناً تطبیق می گردد.

درین شکی نیست که با تطبیق اصول و احکام اسلامی امنیت تأمین و کشمکش های ایجاد شده و دشمنی های موجود از بین می رود و تأمین امنیت وصلح و آشتی تضمین میگردد، قوانین و مقررات اسلامی برای آنست تا حیثیت انسانی حفظ و زندگی صلح آمیز ایجاد و تحکیم شود، تجارب زندگی نشان داده است که معطل گذاشتن احکام و قوانین شرعی، مشکلات را بار آورده دشمنی ها را تشدید و نا امنی ها را دامن می زند اما اجراآت بر وفق احکام اسلامی همه مشکلات ناشی از مداخلات بیگانگان وسرکشی های بد اخلاقان را پایان بخشیده رفاه و آسایش را بار می آورد.

دعوت اسلامی از آغاز در سرزمینی صورت گرفته که از هر حیث دچار بد بختی ها و مشکلات بود، نظام سیاسی، اقتصادی، اخلاقی، فردی، اجتماعی و.... همه و همه بر نارواییِ ها و بی عدالتی ها می چرخید، فساداخلاقی و اداری به اوج رسیده تا امنی و بی عدالتی بالای مردم حکومت میکرد، نظام های ملوک الطوایفی حاکم و مال، جان و ناموس مردم مورد تجاوز قرار میگرفت، خانهٔ خدا هم از شر بی دینان در امان نبوده در داخل آن بُت ها قرار داشت، مردم در داخل بیت الله بُت را پرستش کرده زنها برهنه طواف میکردند، زن آنقدر بی ارزش و حقوق آن زیر پا بود که دختران نوزاد زنده به گور می شدند؛ ترحم، دلسوزی و عاطفه وجود نداشت دختران از مهر و عطوفت پدران محروم بودند قساوت قلبی و وحشت برسرنوشت مردم حکومت میکرد انسان ارزش انسانی را از دست داده خون و جان مردم محفوظ نبود جنگهای خانمانسوز مشغولیت اصلی و روزمرهٔ مردمان زنان جاهلیت بود، زنها و اطفال نابالغ به دلیل اینکه توانایی جنگ را نداشته درمیدان معرکه در برابر دشمن ایستادگی کرده نمی توانند از میراث محروم بودند، میراث تنها حق کسانی بود که در میدان نبرد می جنگند و توانایی دفاع را دارند، درچنین شرایط و درهمان سرزمینی که بیدادگری های اعتقادی، اخلاقی و سیاسی، اقتصادی به اوج رسیده مردم با آن خو وعادت گرفته بودند، دعوت اسلامی آغاز و برای تعویض این حالت دردناک و غیر انسانی به مبارزه پرداخت، آهسته آهسته همه چیز رنگ خود را از دست داده با رنگ حقیقی اسلام رنگین شد؛ فساد اخلاقی و اداری ونظام های فاسد سیاسی و اقتصادی از بین رفت - اخوت، برادری، محبت و صمیمیت در میان مردم حاکم، امنیت تأمین و صلح پایدار درمیان اقشار مختلف ساکنان آن وقت تحقق یافت و بالاخره از همان سرزمین مبارزه برای جلوگیری فساد و برچیدن نابسامانی ها به نقاط دیگری انتقال و درجهان پخش گردید وبه حیث یک رهنمود و اصل تغییر ناپذیر در میان جوامع بشری باقی ماند. اکنون که کشور ها درگرو مشکلات و ناامنی ها قرار داشته مردم رنج می برند راه نجات از همه مشکلات تطبیق لوایح و مقررات اسلامی است باید بالای جنایتکاران ترحم نشود و اسلام به حیث دین اصلی افغانها کاملاً تطبیق و متخلفین به جزای تخلف های شان رسانده شوند تا جلو فساد و بی بندوباری ها گرفته شود؛ تا آرامی ها از بین برود قانون به حیث قانون تطبیق زندگی لذت بخش و اخوت و برادری تحکیم و همه انواع جنایت ها پایان یابد افغان ها در میان هم با انس و محبت زندگی نمایند و برای اختلافات و کشمکش ها جای باقی نماند

سفر رئیس اجرائیه جمهوری...

عزیزان شان را از دست داده بودند دوخته بود هشدار داد: حکومت وحدت ملی در برابر چنین جنایتی سکوت نکرده و عاملان و سازماندهندگان این جنایت به جزای عمل شان خواهند رسانید.

دوکتور عبدالله عبدالله در همین حال علاوه کرد که دشمنان سوگند خورده مردم افغانستان تلاش می کنند تا با کشتار مردم بیگناه و ایجاد ترس و وحشت به اهداف شوم شان برسند اما باید بدانند که با انجام اعمال ضد انسانی و ضد اسلامی نه تنها به جایی نمی رسند که بیشتر از پیش منزوی و ناکام می گردند.

حمله کننده انتحاری عصر روز یکشنبه در حالی بمب جا سازی شده در بدنش را منفجر ساخت که صد ها تن از باشندگان ولسوالی یحیی خیل ولایت پکتیکا به منظور تماشای مسابقه والیبال جمع شده بودند. در این حادثه بیش از پنجاه تن شهید و بیش از هفتاد تن زخمی گردیدند. شماری از زخمی ها به کابل انتقال یافته و برخی هم که زخم های شان سطحی بود در بیمارستان های محلی تحت تداوی قرار دارند.

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال...

سفیر (ژان میشل مارلو) د خپلو بلاعوضو مرستو د دوام ترڅنګ دافغانستان دحکومت د راتلونکي کابینې د ژر جوړیدو هیله ښکاره کړه.

په ځواب کې انجنیر محمد خان ژان میشل ته ډاډ ورکړ چي ان شاء الله کابینه به د لندن د کنفرانس له پیل کیدو څخه وړاندې جوړه شي.

انجنیر محمد خان د فرانسې له سفیر سره د ملاقات پرمهال د فرانسې د دولت او د خلکو د مرستو قدر داني وکړه او زیاته یې کړه چي په تیرو کلونو کې په کابل کې د ماشومانو د روغتیايي کلینیک او استقلال له عالی لیسې سره د فرانسې مرسته یوه ښه بیلګه وه.

لومړي مرستیال پخپلو خبرو کې وویل چي افغانان به هیڅکله د فرانسې د دولت او خلکو مرستې هیرې نه کړي.

په پای کې د فرانسې سفیر د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال ته یوځل بیا ډاډ ورکړ چي هیواد یې ژمن دی چي له افغانستان سره په اقتصادي، پوځي، روغتیايي او ټولنیزو چارو کې اوږد مهاله همکاري وکړي.

توافقنامه های امنیتی با امریکا ...

قراراست که رییس جمهوراشرف غنی و وی در کنفرانس ناتو، در روزهای آینده شرکت نمایند وتایید این توافقنامه ها از سوی ولسی جرگه، یک اقدام به وقت و مناسب است.

نشست وزرای خارجهٔ ناتو که بررسی اوضاع افغانستان نیز شامل آن است، به تاریخ ۲ دسامبر سالجاری میلادی در بروکسل مقر این سازمان برگزار خواهد شد.

سرمنشی جدید ناتو درسفر ماه گذشته اش به کابل، از رییس جمهور و رییس اجرائیه دعوت کرد که در این اجلاس شرکت نمایند.

داکترعبدالله گفت که امید است به زودی مشرانوجرگه نیز این توافقنامه هارا تایید کنند تاطی مراحل قانونی آن به پایان برسد و جنبهٔ عملی پیدا نماید.

رییس اجرایی حکومت افزود که توافقنامه های امنیتی با امریکا و ناتو برای دوام حمایت از نیروهای امنیتی افغان و همکاری های نظامی و امنیتی، یک مسئله اساسی است.

رییس جمهور اشرف غنی نیز از تایید این دو توافقنامه توسط ولسی جرگه، استقبال کرده و درعین حال از مشرانو جرگه خواسته است که در خصوص تایید توافقنامه ها اقدام مشابه نماید.

سندهای امنیتی میان افغانستان- امریکا و ناتو-افغانستان، بتاریخ ۸ عقرب در نخستین روزکاری حکومت وحدت ملی به امضا رسید.

براساس این توافقنامه ها، حدود ۱۰هزار عسکر امریکایی و شماری از نیروهای ناتو، پس از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی می مانند و در بخش آموزش نیروهای افغان همکاری می کنند.

به اساس موافقتنامه کابل - واشنگتن؛ نیروهای امریکایی در بگرام، کابل؛ مزارشریف، هرات، کندهار، شیندند، گردیز و هلمند جابجا می شوند و امریکا در تجهیز و تمویل نیروهای افغان کمک می کند.

همچنین دراین سند؛ در کنار سایر مسائل، تدارکات نیروهای امریکایی در افغانستان، از مالیه معاف می باشد و آنعده عساکر امریکا که متهم به جرایم می شوند، در محاکم کشور شان محاکمه می گردند.

د پکتیکا د برید تر شا د حقاني ...

د پکتیکا ولایت په یحیی خیل ولسوالی کې تر برید وروسته، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د پیښي ۵۴ ټپیان کابل ته ولیږدول چي له ډلې څخه یې د ۱۲ تنو روغتیايي وضعیت ښه نه دی. افغان امنیتي ځواکونو ویلي دي چي سخت ټپیان ترکیې او هندوستان ته درملنې په موخه لیږدول شوي دي.

افغان چارواکو ویلي دي چي د پیښې په قربانیانو کي د افغان حکومت چارواکي شامل نه دي. د کورنیو چارو د وزارت ویاند صدیق صدیقي، د دوشنبې په ورځ یوه خبري کنفرانس کي وویل: "په خواشیني سره د ملي یووالي حکومت له رامنځ ته کیدو سره چي کیداي شي د مخالفینو له پاره یو لوی ګواښ وي، هغوی د خپلو تکتیکونو له بدلولو سره هڅه کوي چي افغانان د راتلونکي په هکله ناهیلي کړي. هغوی غواړي له دې لارې په تاکتو کې خپله ناکامي جبران کړي."

د یکشنبې په ماښام یوه ځانمرګي بریدګر کوونکي په پکتیکا ولایت کې د والیبال لوبې پر مهال چاودنه وکړه. د کورنیو چارو وزارت د وروستي اعلامیې له مخې په دغه برید کې تر ۵۵ ډېر کسان وژل شوي او ۶۰ تنه نور بیا ټپیان شوي دي. د پیښي ۲۰ تنه قربانیان د ښوونځي زده کوونکي وو.

د کورنیو چارو وزارت ویلي دي چي د پیښې ټپیان یې د ۲۹ څرخي الوتکو په مرسته کابل ته لیږدولي دي چي ډېر شمیر یې د سردار محمد داود خان په ۴۰۰ بستریز روغتون کې تر درملنې لاندې دي.

افغان امنیتي چارواکي وایي چي هره ورځ یو شمیر کسان نیسي چي افغانستان ته د ځانمرګو بریدونو د ترسره کولو او د سړک د غاړې بمونو ایښودو په موخه راځي. دغه چارواکي ټینګار کوي چي له ترهګرۍ سره مبارزه اسانه نه ده او باید د ځانمرګو بریدکوونکو کارخانې له منځه ولاړې شي.

صدیقي په دې اړه وویل: "په خواشینی سره دا یوه ډیره پیچلي استخباراتي جګړه ده. موږ له ترهګرۍ سره مخامخ یو او اوس هم په سیمه کې د ځانمرګو کارخانې شته.... خلک دې نه ناهیلي کیږي. نوی حکومت هڅه کوي چي امنیت تأمین کړي."

لا تر اوسه یوې کومې ډلې د پکتیکا د برید پړه پر غاړه نه ده اخیستې.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د هغه لومړي مرستیال عبدالرشید دوستم، د دوشنبې په سهار د پکتیکا د پیښې د ټپیانو د لیدو له پاره روغتون ته ولاړل. ولسمشر غني دا برید بې رحمانه او وحشیانه بللی دی. هغه ویلي دي: "د بې ګناه ملکي وګړو دا ډول وحشیانه او بې رحمانه وژنه په هیڅ ډول توجیه کیداي نشي او دا غیر انساني او غیر اسلامي عمل د کرکې وړ دی."

ولسمشر غني د چارواکو ته دنده سپارلې ده چي څېړنې پیل کړي او د پیښې مسوولین پیدا کړي. له بلې خوا عبدالرشید دوستم له ټپیانو سره د لیدنې پر مهال له هغوی سره ژمنه کړې ده چي افغان حکومت به د افغانستان د خلکو غچ واخلي.

توحیدي: په تېرو ۱۳ کلونو ...

سره بې جدي او قانوني چلند وکړي.

توحیدي همدا راز وویل چي خبریالان په افغانستان کې نه یوازې ځاني مصوونیت بلکه کاري مصوونیت هم نلري، د هغه په وینا د یو شمیر رسنیو مالکان د هیواد د نافذه قوانینو پر خلاف د رسنیو په ټولو مسلکي چارو کې لاسوهنه او د مسائلو په اړه ورستي پریکړه کوي، نوموړي له حکومته وغوښتل ترڅو د آزادو رسنیو کاري قانون جمتو او په هغه کې د رسنیو د مسوولانو صلاحیتونه روښانه او د تصویب لپاره یې ملي شورا ته واستوي.

دچین استازي له نړیوالې ټولنې ...

تل دافغانستان دسولې او بیا رغونې دبهیر هڅونه کړې او کوي یې. چین به له افغانستان سره ددوستۍ ټینګولو ټګلارۍ ته دوام ورکړي او ددواړو هیوادونو تر منځ دستراتیژیکي همکارۍ اړیکو ډېر له پسې پرمختګ هڅونه وکړي.

چین به په خپله دپرمختیا توان دآبادۍ په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي، دبنسټیزو تاسیساتو، کرهنیز چارو، داوبو لګولو پروژو او د معدني سرچینو د استخراج په ساحو کې له دغه هیواد سره همکاري پیاوړي کړي او دښوونې او روزنې په برخه به هم هیواد ته روزنې برابرې کړي.